بسم الله الرحمن الرحيم

ستره محکمه

# جریده میزان

د ستړې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

چهار شنبه ۴ وږی ۱۴۰۵ هـ ش | ۱۲ ربیع الأول ۱۴۴۸ هـ ق | ۲۶ اګست ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۴۴)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ایښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تیری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## با تلاش رئیس محکمه مرافعه ولایت کاپیسا یک قضیه قتل حل و فصل گردید

با تلاش محترم مولوی عزیزالرحمن (حقانی) رئیس محکمه مرافعه ولایت کاپیسا، با اشتراک مولوی سراج الدین (راشد) رئیس دیوان جزا محکمه مرافعه، مولوی عبدالرؤف (سعادت) رئیس محکمه ابتدائیه شهری، مولوی اسدالله (سنان) معاون مقام ولایت، شیخ صبغت الله (راشد) معاون ریاست شورای علماء، مولوی عبدالقدیر (عابد) رئیس عدلیه و آمر اقوام و قبایل آن ولایت، به تاریخ ۲۱ /۲ /۱٤٤٨هـ ق طی نشست، قضایای قتل و مجرویت از باشندگان قریه نوآباد مرکز آن ولایت حل و فصل گردید. در این رابطه از قبل جلسات متعدد همراه با متخاصمین برگزار شده بود و با بیان، نصیحت و ارشادات اسلامی در مورد صلح با جانبین افهام و تفهیم صورت گرفت، که در نتیجه با رضاء و رغبت طرفین با پرداخت یک مقدار پول به عنوان دیت از طرف ورثه قاتل به ورثه مقتول حاضر به اصلاح گردیده، تعهد نمودند که در خصوص همین موضوع در حال و در آینده بین یگدیگر کدام جنجال و دعوی نداشته و نخواهند داشت. در اخیر هر دو طرف یکدیگر را به آغوش کشیده مورد عفو و بخش قرار دادند.

## د ستړې محکمې د نوي نظامي مرستیال محترم الحاج مولوي محمدګل (صیاد) د معرفت غونډه وشوه

د ستړې محکمې نوی ټاکل شوی نظامي مرستیال محترم الحاج مولوي محمدګل (صیاد) صاحب؛ د پنجشنبې په ورځ ۲۹/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق نېټه د یوې غونډې په ترڅ کې د نظامي معاونیت اړوند منسوبینو ته معرفي او رسمًا يې خپله دنده پیل کړه. په دې موخه جوړه شوې غونډه کې، چې د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه؛ د اسلامي امارت د مرکزي دارالافتاء عمومي رئیس محترم شیخ سردار محمد (ابوالفیضان)، د نظامي معاونیت قضائي غړو او اداري کارکوونکو ګډون کړی وو. د غونډې په پیل کې محترم شیخ سردار محمد (ابوالفیضان) وینا وکړه او وویل، د اسلامي امارت د بریا راز په اطاعت کې دی؛ لکه څنګه چې د اطاعت لړۍ روانه ده، همداسې به دوام ورکوو. محترم شیخ صاحب زیاته کړه چې تغیر او تبدیل په اسلامي نظام کې یو اصل دی او موږ به د اسلامي نظام تر چتر لاندې په هر مسؤولیت او هر وخت کې د خدمت هڅه کوو، څو الله تعالی راضي شي. غونډه د محترم شیخ ابوالفیضان صاحب له خوا د دعاء په ویلو پای ته ورسېده. د یادونې وړ ده چې محترم الحاج مولوي محمدګل (صیاد) تر دې وړاندې د کندهار زون نظامي محکمې د رئیس په توګه دنده ترسره کوله او تازه د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د حکم پر اساس د ستړې محکمې د نظامي مرستیال په توګه ټاکل شوی دی.

## د کابل ولایت قره‌باغ ولسوالۍ ابتدائیه محکمې په هڅو د دوو کورنیو ترمنځ د قتل موضوع حل او فصل شوه

د کابل ولایت قره‌باغ ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په هڅو؛ د قومي مشرانو او علماوو په منځګړیتوب، په ۱۹ / ۲ / ۱۴۴۸هـ ق نېټه د دوو کورنیو ترمنځ د قتل موضوع حل او فصل شوه. یاده پېښه، چې د قره‌باغ ولسوالۍ په (باریکاو) سیمه کې رامنځته شوې وه؛ ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه. د ابتدائیه محکمې لهخوا د حکم له صادرېدو مخکې دواړه لوري سولې او روغې جوړې ته وهڅول شول، چې د دواړو لوریو لهخوا ومنل شوه. د مقتول د کورنۍ له رضایت وروسته، د محکمې له لوري یوه رسمي غونډه جوړه شوه؛ چې په کې د دواړو لوریو قومي مشرانو او علماوو هم ګډون درلود، په غونډه کې د مقتول وارثینو قاتل ته بخښنه وکړه او دغه موضوع په رسمي ډول پای ته ورسېده.

## با تلاش رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی شینواری ولایت پروان یک قضیه قتل حل و فصل گردید

با تلاش رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی شینواری ولایت پروان و میانجیگری مصلحین و محاسن‌سفیدان آن ولسوالی، به تاریخ ۱۱/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق، یک قضیه قتل از باشندگان قریه «قول هیر» ولسوالی شینواری دره غوربند آن ولایت، حل و فصل گردید. این موضوع قتل با تلاش رئیس محکمه ابتدائیه و پادرمیانی مصلحین و محاسن سفیدان منطقه، بدون کدام جبر و اکراه به صلح انجامید، جانبین نیز به صلح قناعت نموده، کدام مشکلی میان دوطرف باقی نماند. سپس محکمه ابتدائیه صلح مصلحین را تائید و حکم خویش را صادر نمود، که بعد از ابلاغ حکم، جانبین نیز به حکم محکمه قناعت نمودند.

## د ستړې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۳**

**نېټه: ۱۲/ ۱/ ۱۴۴۸ هـ ق**

د ستړې محکمې د ریاستونو، تمیزونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: فیصلو کې د جعلي پاسپورتونو، آیډي کارتونو په هکله د وضاحت کولو په اړه د ستړې محکمې د محترم عالي مقام حکم.

د کورنیو چارو وزارت د امنیتي چارو ستر معینیت د جرمونو د کشف او پر وړاندې یې د مبارزې لوی ریاست د پیشنهاد شمېره (۳۷۰۴)مورخ ۱۴۴۷/۱۱/۱۹ هـ.ق په توسط غوښتنه کړې تر څو محاکم په خپلو فیصلو کې د جعلي پاسپورتونو او آیډي کارتونو په هکله وضاحت وکړي، په اړه يې د ستړې محکمې محترم عالي مقام داسې هدایت وکړ: هغه پاسپورتونه او آیډي کارتونه چې د کورنیو چارو وزارت د جرمونو د کشف او پر وړاندې يې د مبارزې لوی ریاست له لوري جعلي وبلل شي او موضوع يې د شرعي فیصلې په موخه محکمې ته واستول شي، محکمه دې د یادو پاسپورتونو او آیډي کارتونو ابطال یا عدم ابطال صراحتاً په خپل قرار/فیصله کې لیکې.

بناءً یاد هدایت د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شو.

**د قضاء تاریخ له نبوې دورې څخه تر اسلامي امارته**

**د عمر فاروق ﷺ په دوره کې قضاء:**

**نولسمه برخه:**

«که څوک د داسې حق دعوه کوي، چې غایب دی، یا وایي چې بینه لري؛ نو ده ته یو مهلت وټاکه، چې تر هغه وخته خپل ثبوت راوړي»: دا په دې بانډې دلیل دی، چې قاضي به هر یو له خصمینو ته تر ممکنې کچې مهلت ورکوي، تر څو دلیل په کې راوړلی شي. آن تر دې، چې که مدعي وویل: زما شاهد په ښار کې دی، قاضي به مهلت ورکوي تر څو هغه حاضر کړي؛ ښایي په لومړي مجلس کې هغه حاضر نه شي کړی؛ نو مقابل خصم یې له حق څخه انکار نه شي کولی او د دې لپاره، چې خبره ښه روښانه شي، نور وخت به ورکوي، تر څو هغه حاضر کړي، بیا که مدعي خپل شاهد او بینه حاضره کړي، دلته که مدعي علیه د دفع غوښتنه کوله، قاضي به وخت ورکوي تر څو دفع وکړي؛ ځکه قاضي د دواړو ترمنځ په برابرۍ او عدالت بانډې امر کړل شوی دی.

اخذلیک: د قضاء تاریخ له نبوې دورې څخه تر اسلامي امارته، ۷۱ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## رئیس محکمه مرافعه ولایت جوزجان از محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های خانقاه و فیض‌آباد بازدید نمود

محترم مولوی عبدالغنی (سعید) رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت جوزجان؛ با همراهی مولوی عبدالقادر (خالد) رئیس دیوان مدنی مرافعه، به تاریخ ۲۰ /۲ /۱٤٤۸هـ ق از محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های خانقاه و فیض‌آباد بازدید نمود.

رئیس محکمه مرافعه در این بازدید، در مورد چگونگی اجراآت قضائی و اداری محاکم جهت بهبود امور کاری در آن با در نظرداشت فرامین، متحدالمآل‌ها، تصاویب شورای مقام عالی ستره محکمه توضیحات و رهنمائی لازم ذیل را برای مسؤولین محاکم متذکره نمود:

۱ ـ کتب وارده صادره، مراجعه و اقدام، کتب اندراج، ثبت عرایض و وثیقه‌های مختلف النوع، بسیاری از دوسیه‌های جزائی و حقوقی مشاهده و بررسی گردید، که بسیار به طریقه احسن پیشرفت نموده بود، همچنان از کارکردهای مدیریت‌های حقوق بررسی صورت گرفت، فیصله‌های شان بازدید شد که در اسرع وقت مورد رسیدگی قرار گرفته بود و در قسمت تطبیق فیصله‌ها کدام مشکل وجود نداشت.

۲ ـ در رابطه به صدور فیصله‌ها با در نظرداشت کامل احکام شریعت، فرامین مشرتابه، اصول‌نامه، مجلة الاحکام، متحدالمآل‌ها، لایحه، مصوبات توصیه ضروری صورت گرفت تاحق ذی حق ضایع نشود.

۳ ـ تمام پرسونل قضائی و اداری و خدماتی موظف اند، در وقت تعین شده به وظایف خویش حاضر شوند و مسؤولیت محوله را بگونه منظم انجام دهند.

٤ ـ تأکید گردید که با مراجعین و مردم عام از رفتار نیک و شایسته کار گرفته شود، در تحریر مکاتیب و پیشنهادات توجه درست صورت گیرد تا در صورت نیاز به ادارات که ارسال می‌گردد، به مغالطه و به مشکل مواجه نگردد.

۵ ـ محررین باید اصول فیصله را مراعات نمایند، ترتیب فیصله‌ها و اوراق شان را منظم کنند و به طریقه خوب از کمپیوترها استفاده کنند تا باعث جلوگیری از خرابی و عوارض شان نگردد.

بعضی مشکلات‌ها و ضروریات راکه محاکم داشت آن را به ترتیب یادداشت نمود و وعده همکاری داده شد.

## تحت رهبری رئیس محکمه مرافعه ولایت هرات جلسه رؤسای دواوین دایر گردید

تحت رهبری محترم مولوی علی گل (حمیدی) رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت هرات؛ با اشتراک رؤسای دواوین مرافعه، به تاریخ ۲۲ /۲ /۱٤٤۸ هـ ق، جلسهٔ رؤسای دواوین دایر گردید.

جلسه با تلاوت چند آیات ازکلام الله مجید آغاز گردید؛ سپس موضوعات مندرج استهداآت محکمه ابتدائیه شهری، محکمه ابتدائیه ولسوالی کرخ و آمریت حقوق هرات تحت غور وبررسی همه جانبه اعضای قضائی قرارگرفت؛ که بعد از غور و بررسی همه جانبه روی موضوعات شامل آجنداء از طرف اعضاء جلسه تصامیم شرعی و اصولی اتخاذ و عنوانی مراجع مستهدی هدایت لازم داده شد.

جلسه با دعاء خیر خاتمه یافت.

## د زابل ولایت د مرافعه محکمې رئیس د یاد ولایت د میزانې ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه

د زابل ولایت د مرافعه محکمې رئیس محترم شیخ غلام حضرت ابو المنذر (زاهدي) په مشرۍ یوه هیئت، چې د مرافعه محکمې د عامه امنیت دیوان رئیس مفتي محمد هارون (خطاب)، د مرافعه محکمې اجرائیه مدیر ملا عنایت الله (ساجد) یې غړیتوب درلود، په ۱۸/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق نېټه د میزانې ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه.

یاد هیئت د ابتدائیه محکمې له قضائي او اداري چارو څخه لیدنه وکړه، قضائي غړو او اداري کارکوونکو ته د خلکو ستونزو ته پر وخت د رسېدنې په موخه د مرافعه محکمې رئیس له‌خوا لازمې لارښوونې وشوې.

دغه راز د مرافعه محکمې رئیس د ابتدائیه محکمې قضائي غړو ته هدایت وکړ، چې د حقوقو عمومي مدیریت سره په همغږۍ د خلکو ستونزو ته رسېدنه وکړئ.

د لیدنې په وروستیو کې د ابتدائیه محکمې صادرې شوې فیصلې او قراروونه وکتل شول، د کارکوونکو له حاضرۍ څخه لیدنه وشوه او د کار پر شفافیت، اصولو او دقت باندې ټینګار وشو، ترڅو خلک له بې‌ځایه سرګردانۍ څخه خلاص شي.

## تحت رهبری رئیس محکمه مرافعه ولایت کندز جلسه رؤسای دواوین دایر گردید

تحت رهبری محترم مولوی محمد یوسف (ابوالوفا) رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت کندز؛ با اشتراک رؤسای دواوین مرافعه، به تاریخ ۲۶ /۲ /۱٤٤۸هـ ق غرض بررسی استهداآت واصله محاکم مربوطه جلسه رؤسای دواوین دایرگردید.

جلسه با تلاوت چند آیات از قرآنکریم آغاز شد؛ سپس استهداآت واصله مورد غور و مداقه حاضرین جلسه قرارگرفت؛ بعد از تحلیل و ارزیابی همه جانبه حاضرین در نشست احکام و هدایات‌شان را با رعایت قوانین شرعی و متحدالمآل‌های ریاست عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمه هدایت فرمودند و به تحریرات وظیفه داده شد؛ تا احکام جلسه را به مراجع مربوطه غرض اجراآت بعدی ارسال نماید.

## د کابل ولایت مرافعه محکمې د تحریراتو رئیس د سندونو او وثیقو د ثبت آمریتونو له کارکوونکو سره وکتل

د کابل ولایت مرافعه محکمې د تحریراتو رئیس محترم مولوي سعید مختار (کریمي)، د سندونو او وثیقو د ثبت آمریتونو له اداري کارکوونکو سره د کارونو د لا ښه‌والي او مراجعینو ته د اسانتیاوو د برابرولو په موخه، په ۲۴/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق اداري غونډه وکړه.

په دې غونډه کې د سترې محکمې د اصولو او لارښوونو پر بنسټ، اداري کارکوونکو ته د لاندې موضوعاتو په اړه لازمې لارښوونې وشوې:

۱- د مراجعینو د عریضو او وثیقو د پړاوونو پر وخت او چټک خلاصول.

۲- په ټولو اداري چارو او کتابونو کې د پوره شفافیت او نظم مراعاتول.

۳- راغلو هېوادوالو ته د آسانتیاوو برابرول او له هغوی سره د اصولو په رڼا کې نېک چلند کول.

۴- د آمریتونو ترمنځ د همغږۍ پیاوړتیا او په صداقت سره د کارونو ترسره کول.

۵- د ټولو کارکوونکو له‌خوا د خپلو دندو په سمه توګه او د مسؤولیت منلو په روحیه ترسره کول.

د غونډې په پای کې د تحریراتو رئیس د کارکوونکو ستونزې واورېدې او د حل په موخه یې د سترې محکمې د متحدالمآلونو او هدایاتو سره سم ورته لازمې لارښوونې وکړې.

## تحت رهبری رئیس محکمه مرافعه ولایت بادغیس جلسه هفته‌وار دایر گردید

تحت رهبری الحاج شیخ عبدالخالق (امداد الحق) رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت بادغیس؛ به تاریخ ۲۸ /۲ /۱٤٤۸ هـ ق جلسه هفته‌وار دایر گردید.

جلسه با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید توسط مولوی خیرالله (حقیار) مفتی آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن آغاز گردید.

سپس شیخ محی الدین (عظیمی) مفتی دیوان مدنی و حقوق عامه محکمه مرافعه بخش متباقی از کتاب معین القضاة والمفتین (الفصل الرابع فی حد السرقة) را برای اشتراک کنندگان جلسه توضیح و تشریح نمود.

در ادامه (فصل اول اصول تطبیق تعزیر) از کتاب اصولنامه جزائی محاکم و متحدالمآل نمبر (۳) سال ۱۴۴۶هـ ق توسط شیخ عبدالله (فانی) رئیس دیوان جزا محکمه ابتدائیه شهری برای حاضرین تشریح گردید.

جلسه با دعاء خیر خاتمه یافت.

## رئیس محکمه مرافعه ولایت هرات از محکمه ابتدائیه شهری آن ولایت بازدید نمود

محترم مولوی علی گل (حمیدی) رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت هرات، غرض بازدید از آجراآت قضائی، اداری و تنظیم بهتر امور کاری محاکم، به تاریخ ۲۵ /۲ /۱٤٤۸هـ ق از محکمه ابتدائیه شهری آن ولایت بازدید نمود.

رئیس محکمه مرافعه راجع به اجراآت کاری قضایای جزائی و مدنی وسایر موضوعات اداری با مولوی خدای نور (حقانی) رئیس محکمه ابتدائیه شهری و رؤسای دواوین آن صحبت نمود؛ بعد از ملاحظه دفاتر ثبت انداراج قضایای جزائی و موضوعات حقوقی برای منسوبین اداری هدایات لازم نمود.

سپس رئیس محکمه شهری از رهنمائی و بازدید رئیس محکمه مرافعه اظهار قدردانی نمود و راجع به تنظیم بهتر اجراآت اداری طبق اصول نافذه امارت اسلامی به رئیس محکمه مرافعه اطمینان داد.

## د لغمان ولایت مرافعه محکمې رئیس د یاد ولایت له ښاري ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه

د لغمان ولایت مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج شیخ سخی الرحمن (فایز)؛ د ۱۴۴۸هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتی په ۲مه نېټه، د یاد ولایت له ښاري ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه.

د مرافعه محکمې رئیس د یادې محکمې د دیوانونو قاضي صاحبانو او منسوبینو سره په لیدنه کې وویل، خپلو دندو ته په پابندۍ سره دوام ورکړئ، کارونه مو په دقت او ځیرکتیا سره په شفافه توګه د اسلامي شریعت په رڼا کې ترسره کړئ، کوم خلک چې تاسو ته مراجعه کوي له هغوی سره نېک او اسلامي چلند وکړئ، خبرې او شکایتونه یې په صبر، زغم او پراخې حوصلې سره واورئ.

دغه راز د مرافعه محکمې رئیس د ښاري ابتدائیه محکمې د قضائي او اداري منسوبینو غوښتنې او اړتیاوې واورېدې؛ د اړتیاوو د پوره کولو ډاډ یې ورکړ.

## رئیس محکمه مرافعه ولایت تخار از محکمه ابتدائیه ولسوالی هزار سموچ بازدید نمود

محترم مولوی نورمحمد (نوری) رئیس محکمه مرافعه ولایت تخار؛ به تاریخ ۲۸ /۲ /۱٤٤۸هـ ق از محکمه ابتدائیه ولسوالی هزار سموچ آن ولایت بازدید نمود.

رئیس محکمه مرافعه در این بازدید، نخست دفتر حاضری، کتب اندراج دوسیه‌های حقوقی و جزائی و بعضی از فیصله‌های آن محکمه را ملاحظه و بررسی نمود.

سپس غرض بهبود امور قضائی و اداری و رفع مشکلات مراجعین به مسؤولین مربوطه گفت، یگانه مرجع حل و فصل قضایای جزائی و حقوقی محاکم است، به این اساس به مشکلات و عرایض مراجعین رسیدگی همه جانبه نموده، قضایای شانرا موافق احکام شریعت اسلامی در میعاد معینه فیصله نمائید؛ تا حق به حقدار برسد و عدالت تأمین شود.

علاوه از آن رئیس محکمه مرافعه راجع به استماع مشکلات مراجعین، اتحاد و هماهنگی بین اعضای محکمه و سایر ادارات، رعایت اصولنامه‌ها و متحدالمآل‌های مقام عالی ستره محکمه، رویه نیک با مراجعین، رعایت مکمل اوقات رسمی و پابندی به حاضری، ارسال راپورها به وقت معین و سایر موارد ضروری تأکید نمود.

## محاکم ولایت غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۶۷) دوسیه، به تعداد (۱۶۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری، نظامی زون غور و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت غور طی دو هفته (از ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۳۶۷) دوسیه، به تعداد (۱۶۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۲۶) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۵۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۰) دوسیه فیصله شده، (۲۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۵۰) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۷۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۴) دوسیه فیصله شده، (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۶۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت لغمان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۴۷) دوسیه، به تعداد (۱۶۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، محکمه ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت لغمان طی دو هفته (از ۱۶/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۱۴۷) دوسیه، به تعداد (۱۶۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۳) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۶) دوسیه فیصله شده، (۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت لغمان به تعداد (۱۶۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت هرات طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۴۵۱) دوسیه، به تعداد (۶۲۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت هرات، دواوین مرافعهٔ، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۲/ ۱۴۴۸ هـ ق الی ۲۹/ ۲/ ۱۴۴۸ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی، تجارتی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۵۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۵۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۵) دوسیه فیصله شده، (۴۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۹۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۳۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۳۲) دوسیه فیصله شده، (۲۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۵۱) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۰۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۳) دوسیه فیصله شده، (۲۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می با شد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت هرات به تعداد (۶۲۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۴۳۲) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۲۹۵) وثیقې یې هم اجرا کړې دي

د خوست ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، اختصاصي او د تولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې د ۱/ ۲/ ۱۴۴۸ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۸ هـ ق نېټې پورې (۴۳۲) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۲۹۵) وثیقې یې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې د (۱۳۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۸۹) دوسیې فیصله شوې، (۲۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې د (۵۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۲۰) دوسیې فیصله شوې، (۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۹۵) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د روزګان ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۰۶) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۷۶) وثیقې هم اجرا کړې دي

د روزګان ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د تولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۲/ ۱۴۴۸ هـ ق څخه تر ۲۹/ ۲/ ۱۴۴۸ هـ ق) نېټې پورې (۳۰۶) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۷۶) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې د (۶۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱۰) دوسیې فیصله شوې، (۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې د (۴۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۱) دوسیې فیصله شوې، (۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د روزګان ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۷۶) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د کابل ولایت مرافعه، د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي او اختصاصي محاکمو په دوو اونیو کې (۵۰۴) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولایت مرافعه محکمې دېوانونو، د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي او اختصاصي محاکمو په دوو اونیو کې (له ۱ /۲ /۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۱۶ /۲ /۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۴۰۵) دوسیو ته رسېدنه کړې ده، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**د مرافعه محکمې د دېوانونو اجراآت:**

د کابل ولایت مرافعه محکمې دېوانونو ته په دوو اونیو کې (۱۴۳) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۹۸) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۳) دوسیې فیصله شوې، (۱۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د نشه یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې اجراآت:**

یادې محکمې ته په دوو اونیو کې (۲۷۹) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۱۶) دوسیې فیصله شوې، (۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د اختصاصي محکمې اجراآت:**

یادې محکمې ته په دوو اونیو کې (۱۲) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۷) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## د غزني ولایت اجرستان ولسوالۍ ابتدائیه محکمې مسؤولینو په هڅو د دوو کورنیو ترمنځ د قتل موضوع حل شوه

د غزني ولایت اجرستان ولسوالي ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په ډېرو هڅو؛ د قومي مشرانو او علماوو په منځګړیتوب، په ۳۰ /۲ /۱۴۴۸هـ ق د دوو کورنیو تر منځ د قتل موضوع حل او فصل شوه.

د قتل یاده موضوع ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه، ورپسې د مسؤولینو په هڅو دواړه لوري سولې ته وهڅول شول او جانبینو هم قبوله کړه.

د مسؤولینو په هڅو، د علماوو او قومي مشرانو په منځګړیتوب یاده د قتل موضوع حل او فصل شوه، شته دښمني یې په دوستي بدله شوه او موضوع یې رسماً پای ته ورسېده.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

# د افغانستان اسلامي امارت محاکمو په تېرو پنځو کلونو کې د ښځو د میراث، ملکیت، نفقې، اسنادو او نورو شرعي حقونو اړوند (۱۱۸,۸۶۹) قضیو او مواردو ته رسېدنه کړې ده

د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه د اسلامي شریعت او نافذه قوانینو په رڼاکې د هېوادوالو د شرعي او قانوني حقوقو د تأمین او د عدالت د ټینګښت په برخه کې خپل مسؤولیتونه ترسره کوي. په همدې لړ کې د ښځینه وو حقوقو ته رسېدنه، د هغوی د شرعي حقونو تثبیت او د هغو د ترلاسه کولو زمینه برابرول د قضایي نظام له مهمو مسؤولیتونو څخه ګڼل کېږي.

د تېرو پنځو کلونو د ترسره شویو قضایي اجراآتو او موجودو احصایوي معلوماتو له مخې، د ښځینه وو د میراث، ملکیت، نفقې، اسنادو او نورو شرعي او قانوني حقوقو په برخو کې ګڼو قضیو ته رسېدنه شوې ده. په مجموعي ډول، په دې موده کې ۱۱۸,۸۶۹ ښځینه وو ته د هغوی شرعي او قانوني حقوق رسېدلي دي.

د ښځینه وو د حقوقو د تأمین په دې بهیر کې، د هغوی د میراث او ملکیت اړوند ۱۲,۹۷۶ قضیو ته قضایي رسېدنه شوې ده. په دغو قضیو کې د ښځینه وو د میراث، ملکیت او اړوندو حقونو موضوعات د اسنادو او شواهدو له ارزونې وروسته د اسلامي شریعت او نافذه قوانینو له مخې څېړل شوي دي.

همدارنګه، د ښځینه وو د میراث اړوند قضیو د معلوماتو د راټولولو او ثبت په برخه کې ۹,۰۲۱ موارد تر کار او رسېدنې لاندې نیول شوي دي. د دې بهیر موخه دا ده چې د ښځینه وو د میراث اړوند موضوعات په منظم ډول ثبت، وڅېړل او د حق د تثبیت لپاره یې لازم قضایي اقدامات ترسره شي.

د ښځینه وو د ملکیت د ثبت، تثبیت او اړوندو اسنادو د تأیید په برخه کې هم د پام وړ قضایي اجراآت ترسره شوي دي؛ په دې برخه کې ۱۸,۷۵۰ مواردو ته رسېدنه شوې ده. دغه اجراآت د دې لپاره ترسره شوي چې ښځینه د خپلو مشروع ملکیتونو او اړوندو اسنادو له حق څخه برخمنې شي او د هغوی د ملکیت د تثبیت په وړاندې موجودې ستونزې د شرعي او قانوني لارو حل شي.

ورسره، د ښځینه وو د میراث او ملکیت د اسنادو د پروسس او اړوندو قضایي اجراآتو په برخه کې ۲۲,۷۰۳ موارد هم ثبت شوي دي. په دې توګه، د ښځینه وو د ملکیت او میراث اړوند اسنادو ته د رسېدنې، د هغو د ارزونې او د حقونو د تثبیت په برخه کې یو منظم قضایي بهیر ترسره شوی دی.

د ښځینه وو د نفقې او نورو اړوندو حقوقو موضوع هم د محاکمو له پامه نه ده غورځول شوې. د موجودو احصایوي معلوماتو له مخې، په دې برخه کې ۸,۹۰۴ مواردو ته قضایي رسېدنه شوې ده؛ څو هغه ښځینه چې د شرعي او قانوني نفقې یا نورو ثابتو حقوقو مستحقې وي، خپل حق ترلاسه کړي.

د سترې محکمې له نظره، میراث، ملکیت، مهر، نفقه او نور هغه شرعي حقوق چې اسلامي شریعت ښځینه وو ته ورکړي، د هغوی ثابت حقوق دي او د دغو حقوقو د تأمین په برخه کې هېڅ ډول بې‌پامي د منلو وړ نه ده. له همدې امله، اړوندې محکمې مکلفې دي چې د ښځینه وو قضیې په دقت، بې‌طرفۍ او د اسلامي شریعت او نافذه قوانینو له حکمونو سره سمې وڅېړي.

د تېرو پنځو کلونو په اوږدو کې ۱۱۸,۸۶۹ ښځینه وو ته د حقوقو رسېدنه په دې برخه کې د ترسره شویو قضایي هڅو او اجراآتو څرګندونه کوي. دا شمېر یوازې یو احصایوي رقم نه دی، بلکې د هغو ښځینه وو د حقونو د تأمین استازیتوب کوي چې د قضایي مراجعو له لارې یې د خپلو شرعي او قانوني حقوقو د ترلاسه کولو غوښتنه کړې او د اسنادو او شواهدو له مخې یې حقونه تثبیت شوي دي.

ستره محکمه ټینګار کوي چې د عدالت په تله کې د هر وګړي حق په خپل ځای لوړ ارزښت لري. د ښځینه وو د حقوقو د تأمین په برخه کې به هم د اسلامي شریعت د احکامو او نافذه قوانینو پر بنسټ قضایي رسېدنه دوام ولري، څو هر مستحق کس ته خپل شرعي او قانوني حق ورسپېري او د ظلم، ناروا محرومیت او د حق د ضایع کېدو مخه ونیول شي.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ٤**

**نېټه: ۱۴۴۸/۱/ ۱۵ هـ ق**

د سترې محکمې د ریاستونو، تمیزونو او محکمو محترمو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د قانون د متکرر نقض کوونکي په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام حکم.

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د قانون د متکرر نقض کوونکي په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام حکم شمېره (۲۰/۴۲۲۴) نېټه ۱۴۴۸/۱/۱ هـ.ق د سترې محکمې محترم مقام د هدایت سره سم د متحدالمآل مل په یوه ورقه کې د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شو.

**د متحدالمآل ګڼه: ۵**

**نېټه: ۱۴۴۸/۲/۷ هـ ق**

د سترې محکمې د ریاستونو، تمیزونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د بندیانو د هیئتې په هکله.

د سترې محکمې د محترم عالي مقام د دفتر محترم ریاست د مکتوب شمېره (۶۹۰/۴۸۰) مورخ ۱۴۴۸/۲/۵ هـ.ق په توسط د سترې محکمې د قضایي تفتیش عمومي ریاست مکتوب شمېره (۲۷۲/۳۰۵) مورخ ۱۴۴۸/۲/۵ هـ.ق او په اړه یې د سترې محکمې د محترم عالي مقام حکم مورخ ۱۴۴۸/۲/۵ هـ.ق رارسېدلي د محترم عالي مقام د هدایت موافق ددې متحدالمآل مل د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شول.

**د متحدالمآل ګڼه: ٦**

**نېټه: ۱۴۴۸/۲/۸ هـ ق**


د سترې محکمې د ریاستونو، تمیزونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د قبالې د تصحیح، تغیر او تبدیل مواردو د تعین په هکله.

په قباله کې د تصحیح، تغیر او تبدیل څوارلس موارد د سترې محکمې د محترم عالي مقام د حکم په اساس د متحدالمآل مل په (۲) ورقو کې د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شول.

قضائي احکام او فرامین (۳)



## د ښځو د حقونو په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان

ګڼه (۸۳ج۱)
نېټه ۱٤٤۳/٤/۲۷ هـ.ق

**د ښځو د حقونو په هکله د**

**عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی**

**فرمان**

د اسلامي امارت مشرتابه مقام ټولو اړونده مسئولینو، علمای کرامو او قومي مشرانو ته هدایت کوي چسې د ښځو د لاندنیو حقونو د تحقــق په خاطر جدي اقدامات وکړئ:

۱ــ د نکاح پر مهال د بالغو ښځو رضایت ضروري دی (چې نکاح له کفو سره وي د فتنې او فساد خطر به هم نه وي)، هېڅوک یې په جبـر او اکراه پر نکاح کولو نه شــي مجبورولای.

۲ــ ښځه مال نه، بلکې اصیل انسان دی، هېڅوک یې چاته د صلحې په بدل (بدو) کې نه شي ورکولای.

۳ــ د مېړه تر وفات وروسته چــې شرعي عدت یې تېر شي، کونډه نه لېور ځان ته په زور نکاح کولای شي او نه بل څوک، کونډه د نکاح کولو او د خپل سرنوشت په هکله د خپل اختیار څښتنه ده (چې د کفو اصل او د فتنې او فساد مخنیوی په پام کــې نیول شوی وي).

٤ــ د نوي خاوند څخه د مهر اخیستل د کونډې شرعي حق دی.

٥ــ ښځه د مېړه، اولاد، پلار او نورو خپلوانو په مالونو کې د میراث حق او ثابت سهم لري، په فرضیت یا عصبیت سره هېڅوک یې د خپل حق څخه نه شي بې برخې کولای.

٦ــ کوم څوک چې متعدد ودونه لري مکلف دي چې ټولو ښځو ته له شرعي حکم سره سم حقونه ورکړي او ترمنځ یې عدل وکړي.

لاندې اداري او وزارتونه دې په ځانګړي ډول په خپله برخه کې اقدامات ترسره کړي:

ــ د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ته حکم دی چې د ښځو د حقونو اړوند د هدایاتو په هکله علمای کرام او خطیبان وهڅوي تر څو د خپلو خطبو او موعظو له لارې خلک پوه کړي چې له ښځو سره ظلم کول او د هغوی د حقونو نه ورکول د الله تعالی د نارضایتي او د هغه د عذاب او قهر سبب ګرځي.

ــ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دې هم د خپلو وسایلو له لارې د ښځو د حقونو اړوند ترغیبي او ترهیبي ګڼور مطالب په تحریري او صوتي بڼه په دوامداره توګه نشر ته سپاري، د ګڼورو رسالو تکثیر او اشاعت ته دې د فن او استعداد خاوندان هڅوي، تر ممکنه حده دې ځینې مهمې لنډې رسالې له خپلو وسایلو څخه په استفاده چاپوي، ترڅو د ښځو د شرعي حقونو په هکله د علمای کرامو توجه جلب، پوهاوی عام او د روان ظلم مخنیوی اسانه شي.

ــ د سترې محکمې عالي مقام دې ټولو محکمو ته هدایت صادر کړي څو د ښځو خصوصاً د کونډو د حقونو او پر هغوی د ظلمونو اړوند عریضې یې په اصولي ډول واخلي او په هکله یې غفلت ونه کړي تر څو له ظلم څخه د خلاصون او د خپلو شرعي حقونو د ترلاسه کولو په برخه کې له مایوسۍ سره مخ نه شي.

ــ والیان او ولسوالان دې د یادو وزارتونو او سترې محکمې سره د فرمان د تطبیق په برخه کې هر اړخیزه همکاري وکړي.

**و السلام**

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث**

**مولوي هبة الله اخندزاده**

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳